# شریعت

په اوونۍ کې دوه ځله خپرېږي

د افغانستان اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارګان

د تأسیس کال ۱۳۷٤ هـ.ش/ دوهم پړاو / ۱۵۵ګڼه / چهارشنبه ۲۱ رمضان‌المبارک ۱٤٤٤ هـ.ق / ۲۳ حمل ۱٤۰۲ هـ.ش / ۱۲ اپریل ۲۰۲۳ میلادي


**چین و روسیه:**

## اعمال فشار بر حکومت افغانستان بی نتیجه است

در جلسهٔ اخیر شـورای امنیت سـازمان ملل که برای بررسـی اوضاع افغانسـتان برگزار شد، چین و روسـیه کشورهای دیگر را به تعامل با امارت اسـلامی دعوت کردند.در جلسـهٔ اخیر شـورای امنیت سـازمان ملل نماینـدگان چیـن، روسـیه و پاکسـتان خواهـان تعامـل با امارت اسـلامی شـده و فشار بر حکومت فعلی افغانسـتان را بی‌نتیجه دانسـتند.گفته می‌شود در جلسه اخیر شـورای امنیت سـازمان ملـل کـه بـه خاطر ممنوعیت کار زنان در سـازمان ملل برگزار شـده بود، موضوع خروج «یوناما» از افغانستان در صورت ادامه این شـرایط بحث شـد، اما نمایندهٔ چین شدیداً با این کار مخالفت کرد.

## ایران افغان سوداګرو ته اسانتیاوې برابروي



په کابل کې د ایران سفارت مرستیال غلام رضا نجاري ویلي، هېواد يې افغان سـوداګرو ته د اسـانتیاوو په رامنځتـه کولو او د مالیاتو په کمولو کې همکاري کوي.د افغانسـتان د مالیې وزارت په خبرپاڼه کې راغلي چې د دغه وزارت اداري مرسـتیال حمدالـلـه زاهد پرون پـه کابل کې د ایران سـفارت له مرستیال غلام رضا نجاري سره لیدلي دي.په دې لیدنه کې دواړو لورو د افغانسـتان او ایران ترمنـځ د مضاعفو مالیاتو نه اخیسـتلو مالیاتي اسانتیاوو او د دواړو هېوادونو ترمنځ ۵مخ

**مسوولان یک شرکت مخابراتی:**

## افغانستان از جمله کشورهایست که در آن فرصت خوبی برای سرمایه‌گذاران بین‌المللی به میان آمده است

شـریعت: مسـوولان شـرکت مخابراتی (ام.تـی.ان) در دیدار با معاون اداری ریاسـت الوزرا گفتند که افغانستان از جمله کشورهایست که در آن زمینهٔ سرمایه‌گذاری برای شـرکت‌ها و سـرمایه گذاران بین المللی به خوبی فراهم شده است.
دفتر مطبوعاتی ریاست‌الوزراء روز گذشـته با نشـر خبرنامه‌یی گفت: مولوی عبدالسـلام حنفـی معاون اداری ریاسـت الوزراء در حالیکه مولوی نجیب الله حقانی سرپرست وزارت مخابـرات و تکنالـوژی معلوماتـی نیز حضور داشـت، با مسوولان شـرکت مخابراتی ام تی ان و ام یک دیدار نمود.در این دیدار عزم میقاتی رئیـس عمومی گروپ (ام یک) و (ام.تی.ان) ص۵

## د پاسپورټ رئیس او ازبکستان سفیر د ویزې د تمدید پر اسانتیا خبرې وکړې



شریعت: د پاسپورټ عمومي رییس پاسوال مولوی عبدالکریم حسیب پرون د خپل کار په دفتر کې په افغانستان کې د ازبکسـتان له سفیر یادګار خواجه شـادمانوف او مل پلاوي سـره وکتل.په دې لیدنه کـې دواړو لوریو ترمنځ د هر اړخیزو همکاریو او د افغانسـتان د ویزو پر تمدید خبرې وشوې.مولوی عبدالکریم حسیب۵ مخ

## د افغانستان د هوایي حریم عواید ډېر شوي



د افغانسـتان له هوایـي حریم هر کال دوه نیم میلیونه امریکایي ډالره عواید ترلاسـه کېږي. د ترانسپورټ او هوایي، چلند وزارت ویاند وایي، چې د افغانستان په هوایي حریم له هرې عبوري الوتنې ۷۰۰ امریکایي ډالـره اخیسـتل کېـږي او په هرو ۴۰ سـاعتونو کې لـه هوایي حریم شاوخوا ۱۰۰ الوتنې ترسره کېږي. د یاد وزارت ۵مخ

## د صنعت او سوداګرۍ وزارت له کورنیو تولیداتو څخه په استفاده ټینګار کوي



د صنعت او سـوداګرۍ وزارت وایي، چې د خلکو ملاتړ، د فساد مخنیوی، په هېواد کې دننه پانګونې ته د سوداګرو هڅونه او له ګاونډیو هېوادونو سره ښې اړیکې په کم وخت کې د افغانسـتان د سوداګرۍ د ودې لامل شوي دي.د یاد وزارت چارواکي د کورنیو تولیداتو د معیاري کولو او له سوداګرو څخه د ملاتړ په موخه دولتي اداراتو کې له کورنیو تولیداتو ۵ مخ

## نجات یک صراف از نزد آدم‌ربایان درکابل




شـریعت: نیروهای ریاست عمومی اسـتخبارات یک صراف را از ساحه ناحیه دوازدهم شهر کابل از چنگ آدم ربایان نجات دادند.ص۵

## د افغانیو د ارزښت د لا پیاوړتیا په موخه ۱۵ میلیونه ډالر لیلامیږي

شـریعت: د افغانسـتان بانک، د افغانیـو د ارزښـت د لا پیاوړتیا په موخه، نـن د ورې په ۲۳مه، (۱۵) میلیونه ډالره د لیلام په ډول پلوري. دغه بانک، په شـرایطو برابر له ټولو صرافانو او تجارتـي بانکونو څخه غوښـتي چې په دغو داوطلبیو کې دې ګـډون وکـړي او د داوطلبۍ ګټونکي یې مکلف کړي چې خپل حسـابونه د ورځې تـر پایه پورې تصفیـه کړي.په خبرپاڼـه کې دغه راز یادونه شوې ده چې د معاملـو قسمي ترسره کول مجاز نه دی او د لیلام ګټونکي دې د خپل ۵مخ


**جنگ فکری** ص۲

**د فطر صدقه** ۳ مخ

**عملیات!** لنډه کیسه ۲ مخ


**سرمقاله**

## افزایش عواید داخلی تاییدی بر کاهش فساد اداری

حکومتـداری خوب امروزه به یکی از اساسـی ترین مباحث مهم جهانی تبدیل شده است، رشد، انکشاف ،توسعه ،پیشرفت ورفاه اجتماعی دولت ها نیزبه اساس این شاخص ها مورد ارزیابی قرار میگیرد.هرچند به باور آگاهان عرصه بین المللی ،حکومتداری خوب روندی است که درآن ، ادارات عامه ، امورات عامه رابه دور از فسـاد وسـؤ استفاده با رعایت حقوق بشری افراد وحاکمیت قانون انجام می دهد ، اما شاخص های کلیدی ازجمله مشارکت، مسؤلیت پذیری ،شفافیت ،پاسـخ گویی ، موثریت ومثمریت، مساوات، حاکمیت قانون واجماع جامعه می توانـد ،تمیثلی خوبی ازحکومتداری خوب نماید وحکومت رادرمیان مدت به خود کفایی برسـاند، مگر ناگفته نباید گذاشـت که اجماع جامعه وهمکاری افراد ونهـاد های مالیه دهنده نیزموثریت خودرادراین روند دارد.از اینرو قانون پذیری، تعهد ومسـؤلیت پذیری افراد جامعه ، نهاد ها وکلکتیف های مالیه دهنده درپهلوی مسؤلین حکومتی وشفافیت درجمع آوری مالیات نیزقابل اهمیت است از این جهت امروز مردم افغانستان درک نموده اندکه قانون پذیری وهم نوایی با حکومت می توانند ، افغانستان را از وابستگی اقتصادی بیرونی ها ، نجات دهند و به خود کفایی برساند. خوشبختانه رعایت این شاخص هاست که امروز وزارت مالیه امارت اسـلامی به صراحت از افزایش عواید داخلی وملی خبری می دهد که این خبر نه تنها برای مردم افغانستان ،بل برای نهاد های کمک کننده جامعه بین الملل نیز امیدوار کننده اسـت. وزارت مالیه کشور اخیراً اعلام کرده است که میزان درآمد حکومت درسال ۱۴۰۱ خورشیدی به طور قابل ملاحظه یی افزایش یافته است ،این وزارت تاکید نموده که درآمد مجموعی آن درسال ۱۴۰۱ خورشیدی ۱۹۳ میلیارد و ۹۱۲ میلیون افغانی بوده است که نسبت به سال قبل ۳۷ درصد افزایش رانشان می دهد. ص۲

## برگزاری نشست مشورتی در رابطه به نصاب درسی «جامعهٔ عبدالله بن مسعود رضی الله عنه»



شریعت: نشست مشورتی در رابطه به نصاب درسـی «جامعهٔ عبدالله بن مسـعود رضی الله عنه و ایجاد تخصصات جدیـد در هفت زون کشـور به ریاست شـیخ الحدیث مولوی ندا محمد ندیم سرپرسـت وزارت تحصیـلات عالی، و ایجاد تخصصات جدیـد در هفت زون کشور برگزار شد. ص۵

## فراغت ۲۱۰ تن از مجاهدین امارت اسلامی

شریعت: ۲۱۰ تن مجاهد از قوماندانی تعلیمات مشـترک محاربوی و مرکز تعلیمـی قـول اردوی ۲۱۵ عزم فارغ گردیدند. یک صد و چهل دو مجاهد قطعات و جزوتام های قول اردوی ۲۱۵ عزم، پس از فراگیری و سـپری کردن تعلیمات مسلکی و عقیدتی دو ماهه از مرکز تعلیمی شورآب این قول اردو فارغ‌شدند.
دفتر مطبوعاتی وزارت دفاع ملی روز گذشـته با نشـر خبرنامه‌یي گفت به مناسـبت فراغت مجاهدین مذکور محفلی با اشتراک مولوی عبدالصمد «فاروق» معاون قول اردوی ۲۱۵ عزم، مولوی عبدالعزیـز «انصاری» رییس ارکان، مدیران‌قرارگاه، آمرین، مسوولان، استادان مرکز تعلیمی شوراب و سایر مجاهدین برگـزار گردید. در خبرنامه آمده است که از میان مجاهدین فارغ شده ۱۰۱ تن کورس دریوری و ۴۱ تن دیگر آنان مسـلک توپچی را به شکل عملی و نظری آموزش دیدند. ص ۵

## هلمند کې د ۱۴ میلیونه ډالرو په ارزښت دیوې پروژې چارې پیل شوې

د هلمند ولایت په دریبو ولسـوالیو کې د ۱۴ میلیونه ډالرو په ارزښـت دیوې پروژې چارې پیل شـوې. د مسولینو په وینا، په دې پروژه کې به زرګونه کسـانو ته د کار زمینه برابره شـي. د هلمنـد دکلیـو او پراختیا ریاست مسـوولین وایي، دا پروژه د ۱۴ میلیونـه امریکایـي ډالرو په ارزښـت د هلمند ولایت په دریبو ولسوالیو، نادعلي، ګرشک او ناوې ولسوالیو کې پیلیږي. بلخوا هلمند کې د اقتصاد ریاسـت مسـوولین وایي د یادې پـروژې له لارې به د ویالو، سړکونو، واټرکېټونو، استنادي دیوالونـو او نور رغنیـز کارونه به د بشري ځواک په وسیله ترسره شي.

## د کابل په دهمزنګ کې د یوه فرعي سړک د جوړولو چارې پیل شوې



د دریمې ناحیې لومـړي ګذر اړوند، د دهمزنـګ په غرنۍ (د اوبو مخزن) په سیمه کې د فرعي سـړک جوړولو چـارې، د کابل ښـاروالۍ له لورې د ملګروملتونـو د پـروژوي دفتـر (UNOPS) په مالي مرسته پیل شوې ده.د دریمې ناحیې رئیس قاري قدرت الله امین وویل د یادې پروژې د پیل په مراسمو کې وویل چې د دغه سړک له جوړېدوسربېره، ۵مخ

# دفلسطیني مسلمانانو د ضعف یو څو اسباب!

**عبیدالله رقیب**

د فلسطین د مسلمانانو د شکست سببونه ډیر دي، ځیني یې دا دي:
_ تر عمل یې علم زیات ده.
_ د نرانو او ښځو خلطیت یې زیات ترسترګو کېږي.
_ ظاهر یې له دښمن سره د محبت ښکارندوی ده، شکلونه یې د خپل دښمن په څیر جوړ کړي دي، د خپل پیغمبر سنت او خپل کلتور یې پریښی ده، دغه حالت یې له دښمن سره د باطني نفرت په نه‌شتون دلالت کوي او د نفرت نه‌شتون د مقابلې انګېزه او بنسټ سستوي، مطلب دا چې دوی د مقابلې روحیه نه‌لري.
_ تر خپل کاریې د دښمن د اعداد لیدلو او معلوملو ته زیاته توجه ده، چې په دغه کاریې روحیه له لاسه ورکړې ده.
_ په دومره سخت حالت کې ډیر څه پاخه او لوړې مانۍ لري، ځوانان یې داسي تروتازه ښکاري لکه ټول ژوند چې یې ساړه سیوري ته تیر شوی وي، هر یو چې یې وینئ داسي سور سپین وي چې هیڅ د غربت، ستړیا او اندیښنې څرک پکې نه وي، معنی دا چې بالکل عملي خلک نه‌ښکاري.
څوک چې د عمل اراده نه‌لري بری به له کومه کړي؟دا ځکه د شکست اسباب ګڼم چې په خپل وطن کې مې دغسي خلک تجربه کړي دي.



## افزایش عواید داخلی . . .

بنابراین اگاهان اقتصاد به این باور اند که این افزایش درآمد حکومت نه تنها ارزش افغانی دربرابر دالر ونرخ های مواد اولیه را ثابت نگهداشته، بل پروژه های ملی رانیز سرعت بخشیده است.روی این اساس می توانیم گفت که افزایش عواید داخلی، تاییدی برکاهش فساد اداری درنهاد های دولتی وغیر دولتی ، همچنان اعتماد شهروندان نسبت به دولت است ، زیرا این فساد است که اعتماد مردم نسبت به دولت را خدشه دار می سازد، ثبات سیاسی ، هنجارهای فرهنگی و اجتماعی را متزلزل می کند، برعکس اعتماد عمومی شهروندان یکی از سرمایه های اجتماعی است که وحدت ویک صدای رادر سیستم های اجتماعی ایجاد و حفظ می نماید.

# جنگ فکری

**بخش نخست / محمدعمر عمری**

لاله‌ی این چمن آلوده به رنگ است هنوز
سپر از دست مینداز که جنگ است هنوز
ای که آسوده نشینی لب ساحل برخیز
که تو را کار به گرداب و نهنگ است هنوز

بعد از اینکه صلیبی ها در جنگ‌های پیاپی از مسلمان‌ها شکست خوردند به این نتیجه رسیدند که نمی‌شود با مسلمان‌ها از راه‌های نظامی و عسکری وارد جنگ شد. این جا بود که مقولۀ جنگ فکری به میان آمد.
برای جنگ فکری علما تعریف‌های متعددی ارائه کرده‌اند که هر کدام نوعی از جنگ فکری را شامل می‌شود.
اما تعریف جامعی که تمام ابعاد مختلف جنگ فکری را دربر گیرد وجود ندارد.
چرا؟ چونکه جنگ فکری در هر عصر و زمانی تغییر شکل می‌دهد، اسلوب و روش‌های خود را مطابق به زمانه تبدیل می‌کند.
اشکال مختلف جنگ فکری که امروز وجود دارد چند سال قبل نبود و چند سال بعد هم نخواهد بود.
برای همین است که تعریف‌های مختلفی از جنگ فکری وجود دارد:
-جنگ فکری جنگی را می‌گویند که در او قوای نظامی و عسکری به کار گرفته نمی‌شود بلکه از طریق کتاب‌ها، مجله‌ها، رادیو و تلویزیون اعتقادات و باورهای مسلمان‌ها مورد هدف قرار می‌گیرد.
تمام روش‌هائی که از راه‌های غیر نظامی برای تخریب اسلام و مسلمین به کار گرفته می‌شود شامل جنگ فکری است.
مثال بارزش این است که امرالشیطان ناصالح در یک نشست خبری اقتصاد اسلامی را یک چیز وهمی و خیالی خواند.
با این کار می‌خواست اعتماد مردم را نسبت به نظام اسلامی از بین ببرد.
-کشور اسلامی تابع کشور قدرتمند غیر اسلامی شود و درعین حال احساس آزادی نیز داشته باشد. این خطرناک‌ترین حالت ممکن برای یک کشور اسلامی است. چراکه با وجود تابعیت از کشور غیر اسلامی اگر احساس غلامی کند این امکان وجود دارد که روزی غیرت دینی‌اش بیدار شود و آزادی خود را به دست آورد اما در صورتی که احساس آزادی داشت دیگر شاید امیدی نباشد که بتواند خود را از غلامی نجات دهد.
در طول بیست سال گذشته از طرف دشمن بسیار سعی شد که به مردم افغانستان بقبولانند آزاد هستند؛ با وجود اینکه تمام حکومت دست‌نشانده‌ٔ آمریکا بود باز هم روز استقلال را جشن می‌گرفت.
چه مضحک بود جشن استقلال زیر سایۀ اشغال آمریکا!
- یک کشور اسلامی فرهنگ و معتقدات کشورهای غربی را به خود بگیرد بدون اینکه از ضایع شدن فرهنگ اسلامی خود بیم داشته باشد.
مانند جشن‌هائی که در فرهنگ‌های دیگر وجود دارد و با وجود اینکه در اسلام حرام است باز هم در کشور ما در سال‌های گذشته رواج پیدا کرده است.
مثل: نوروز، ولنتاین، سالگره و....
-یک کشور اسلامی مناهج تعلیمی و تربیتی کشور غیر اسلامی را قبول کند و بر فرزندان اسلامی تطبیق کند تا از این طریق فکر و عقل فرزندان اسلام را مسخ کند و آن‌ها را تابع فرهنگ غیر اسلامی گرداند.
در این روش از جنگ فکری، فرزندان اسلامی سربازان دشمنان اسلام قرار می‌گیرند و تماما برای اهداف آن‌ها کار می‌کنند. نمونه‌اش را من و شما در سال‌های اخیر در کشور خود بسیار مشاهده کرده‌ایم. کسانی که از چند نسل مسلمان بودند و پدرانشان بر آن‌ها نام اسلامی گذاشته بود، به دشمن اسلام و افغانستان تبدیل شدند. دستورات را از کشورهای دیگر می‌گرفت و اجرا می‌کردند. نمونۀ دیگر نصاب غیر معیاری معارف بود که در سال‌های گذشته سعی شده بود مفاهیم مهم اسلامی از نصاب حذف شود و جایش را دروسی بگیرد که تشنگی روحی و ایمانی فرزندان اسلام را برطرف نمی‌کرد.
نمونۀ دیگرش پوهنتون آمریکائی‌ها در کابل بود که افرادی در لباس مسلمان اما در فکر آمریکائی تربیت می‌کرد.

# عملیات!

**لنډه کیسه / دادمحمد ناوک**

له زورور درب سره په دروازه کې کوچنۍ سره لمبه پورته شوه او ورسره د دروازې ماتې نیمه سوځلې ټوټې د انګړ منځته را ورسیدې، چې تر څو مې ماغزه ځای ته را وستل او سترګې مې سره موښلې، دریشی کړی عسکر مې سرته ورسید، پر تندي ټومبلې بتۍ یې څېره رانه پټه کړې وه، په درانه بوټ یې په تشي کې ووهلم، په پښتو یې را باندې چیغه کړه:
ـ پورته دووسه، پرمخې شه! لاسونه دې شاته واړوه!نیم را پورته شوم، له بالښت سره مې لاس د موبایل د را اخیستو لپاره وټپاوه، خو درانده کنداغ مې اور مېږ کې ګرمه څریکه تېره کړه، په څنګ رنګ شوم، خدایزده څومره وخت به وتلی و، خو چې په هوښ راغلم، د ماشومانو، مېرمنو کریږې او د عسکرو ښکنځلې مې غبرګې په غوږو رانوتلې، چې سره وښوریدم، د خپلې خونې د کړکۍ مخې ته له کاکا سره شا په شا تړلی نیمه ملاست وم، ما چې خوله ښوروله، کاکا ورو خوله غوږ ته را نږدې کړه:
ـ ونه ښورې، د کفر زامنو په ماینونو کېنولي یو!
لکه خوب چې وینم، موږ به چې سعودي کې ستړي ستومانه، خونې ته را غلو، نو د وطنۍ مینې په خاطر به مو د هېواد چینلونه نیول، شمشاد کې خارګر سریال را یاد شو، هلته به یې دغسې چلونه کول، باور مې نه راته، خو چې تر څنګ مې ښکته وکتل، سره تکمه مړه او روښانېدله!عسکر د هغې خونې کړکۍ ته سره تول و، چې مېرمنې او ماشومان یې پکې بندیان کړې وو، یو مخامخ راته ولاړ و، د موبایل فلش یې چالان و، لکه چې ویډیو یې کوله، پر کور به کله کله چورلکو دوره را وخوره، زما د سوچ لړی مې کاکا را وشلوله:ـ بې هوښه یې که په څه یې، غیرت در وراندې کړه، کلمه ووایه، خدای یاد کړه!ایله پوی شوم، چې اخرې مې ده، عسکرو لکه چې بم په وخت درولی و، څو دقیقې وروسته انګړ له عسکرو خالي شو، ماته مې ټول ژوند ذهن کې را وګرځید، ماشومتوب، د مستو په غلا خوړل، د ګاونډیانو شیشې ور ویشتل، ښوونځی، ځواني، لومړۍ مسافري، واده او دا نږدې تېر اختر کې له شوخو اولادونو سره سیلیفانې... کاکا مې په زوره په اوږه ټېله کړم:
ـ بې غیرته لکه چې ژاړې، کلمه ووایه! اشهد ان لا اله الا الله...
ـ اشهد ان لا اله الا الله و اشهد ان...
د بم زورور غږ مو هډونه سره وپاشل، د بدن ټوټې، وینې، هډوکي مو په هوا کې نښېدل، له خونې په یوه وار، د ښځو، سپین ږیرې پلار او ماشومانو تېرې کوکې د بم غږ په ځان کې ونغاړلې، د کړکیو د شیشو خرچې شو، د ښې لاس پرې خپره مې نېغه تېزه تر شیشې ننوته او د واده د شپې په څېر مې د بې هوښه ناستې مېرمنې غاړه کې ولګېده، لمنې ته یې را وښویېده، د شهادت ګوته مې لا ښورېده!
۱۳۹۸هـ،ش
تصویر؛ لوګر - پر بمونو د مسلمانانو له الوزولو وروسته د کور تصویر!

# د نیکي هیڅ خبره بیکاره مه ګڼه!

**اوله برخه / حشمت اللّـه میاخیل**

د شیطان په دې فریب(دوکه) کې هم هیڅکله راتلل نه دي په کار که چېري مونږ د دین د غټو کارونو د کولو څخه محرومه یو نو دغه وړوکې وړوکې نیکۍ موږ ته څه ګټه رارسوي؟ حقیقت دا دی چې د نیکۍ هیڅ عمل کوچنی نه دی او کوم وخت چې د کومي نیکې توفیق وشي هغه باید غنیمت وګڼل شي خامخا یې کول په کار دي، څه لیري خبره نه ده چې الله تعالٰی دغه نیکې او ښه عمل قبول کړي نو ددي له برکته زموږ نور ژوند هم برابر کړي.
ددغه جذبې او معتدل فکر سره ددي لیکنې مطالعه به انشاءالله ګټوره ثابته شي.(الاعمال الصالحه)
استغفار.
الله تعالٰی د استغفار د ګناهونو د زهر تارياق ګرځولی دی، د استغفار معنیٰ ده د الله تعالٰی څخه مغفرت غوښتل، هره بده او ناوړه ګناه کوم چې د حقوق الله سره تعلق لري په توبه او استغفار سره معافیږي له دې کبله کله چې کومه ګناه صغیره یا کبیر وشي نو زر په توبه او استغفار سره ددې تلافي کول په کار دي، بلکې په خلاف اولی کارونو باندې هم استغفار کول په کار دی او په ظاهره که کومه ګناه نه وي شوي بیا هم استغفار کول په کار دي هر مسلمان پوهیږي چې د دواړو جهانو سردار حضرت محمد صلی الله علیه وسلم د ګناهونو څخه بالکل معصوم او پاک و، ددې سره دی مبارک صلی الله علیه وسلم فرمایي چې :زه د الله تعالٰی څخه هره ورځ تر اویا (۷۰) زیات کرته استغفار کوم. (بخاري).
په یو حدیث کې د دواړو جهانو د سردار محمد صلی الله علیه وسلم دغه ارشاد دی چې « کوم سړی د استغفار پابندي وکړي الله تعالٰی دده لپاره په هري تنګۍ کې د اساني لاره پیدا کوي او هر غم یې لیري کوي او وده ته د داسي ځایونو څخه رزق ورکوي چېري چې دده ګمان هم نه وي.
(ابوداؤد، کتاب الصلوة باب الاستغفار)
له دې کبله په تلو راتلو، ناسته ولاړه کې هم استغفار کولو عادت جوړول په کار دي او په ورځ کې لږ تر لږه د استغفار یوه تسپې ولوستل شي نو ډیره ښه ده.
د استغفار مختلفي عربي جملې دا دي.
استغفار په هره ژبه کې کېدای شي خو ددي مختصري او مختلفي عربي جملي دادي:
(١) أَسْتَغْفِرُ اللهَ الَّذِيْ لَا اِلٰـهَ اِلَّا هُوَ الْحَيُّ الْقَيُّوْمُ وَأَتُوْبُ إِلَيْه.
(٢) اَللّٰهُمَّ رَبِّ اغْفِرْلِىْ وَلِلْمُؤمِنِيْنَ وَالْمُؤمِنَاتْ.
(٣) أَسْتَغْفِرُ اللهَ الَّذِيْ لَا اِلٰـهَ اِلَّا هُوَ الْحَيُّ الْقَيُّوْمُ وَأَتُوْبُ إِلَيْه
(٤) أَسْتَغْفِرُ اللهَ رَبِّيْ مِنْ كُلِّ ذَنْبٍ وَّ أَتُوْبُ إِلَيْهِ.
(٥) رَبِّ اغْفِرْ لِيْ وَتُبْ عَلَيَّ إِنَّكَ أَنْتَ التَّوَّابُ الرَّحِيْمُ.
(٦) اَللّٰهُمَّ رَبِّ اغْفِرْلِىْ وَ لِوَالِدَیَّ وَ لِاَهْلِىْ وَلِلْمُؤمِنِيْنَ وَالْمُؤمِنَاتِ وَالْمُسْلِمِيْنَ وَالْمُسْلِمَاتِ اَلْاَحْيَاءِمِنْهُمْ وَالْاَمْوَاتْ.
په حدیث کې د استغفار د یوې خاصي دعا ډېر فضائل بیان شوی دی او وهغه ته سید الاستغفار د (استغفار سردار) ویل شوی، هغه استغفار دادی:»اَللّٰهُمَّ أَنْتَ رَبِّي لاَ إِلَهَ إِلَّا أَنْتَ، خَلَقْتَنِي وَأَنَا عَبْدُكَ، وَأَنَا عَلَى عَهْدِكَ وَوَعْدِكَ مَا اسْتَطَعْتُ، أَعُوذُ بِكَ مِنْ شَرِّ مَا صَنَعْتُ، أَبُوءُ لَكَ بِنِعْمَتِكَ عَلَيَّ، وَأَبُوءُ لَكَ بِذَنْبِي فَاغْفِرْ لِي، فَإِنَّهُ لَايَغْفِرُ الذُّنُوبَ إِلَّا أَنْتَ.»
صحیح البخاري (۸/ ۶۷):
په حدیث کې راغلي چې کوم سړی دغه کلمي په بشپړه یقین سره د سهار په وخت ولولي او د ماښام څخه وړاندې وفات شي نو هغه په جنتیانو کې شمېرل کېږي او کوم سړی چې دغه کلمې د شپې په مهال په بشپړه یقین سره ولولي او د سهار څخه وړاندې وفات شي نو هغه د جنتیانو څخه دی.(بخاري باب فضل الاستغفار)په ځانګړې توګه د شپې د خوب څخه وړاندې څو کرته د زړه په حاضرېدو سره د ورځې د خپل ټولو اعمالو د کوتاهیو، ګناهونو اجمالي تصور او فکر کولو سره د ټولو استغفار کول په کار دي. هسې خو دغه یو مختصر عمل دی، لېکن د الله تعالٰی په دربار کې چې پردې کوم اجر او ثواب لیکل کېږي یا ورکول کېږي، ددې تصور هم دغه وخت زمونږ لپاره ناممکنه خبره ده..... نور بیا...

الله تعالٰی د استغفار ګناهونو د زهر تاریاق ګرځولی دی، د استغفار معنیٰ ده د الله تعالٰی څخه مغفرت غوښتل، هره بده او ناوړه ګناه کوم چې د حقوق الله سره تعلق لري په توبه او استغفار سره معافیږي له دې کبله کله چې کومه ګناه صغیره یا کبیر وشي نو زر په توبه او استغفار سره ددې تلافي کول په کار دي، بلکي په خلاف اولی کارونو باندې هم استغفار کول په کار دی او په ظاهره که کومه ګناه نه وي شوې بیا هم استغفار کول په کار دي هر مسلمان پوهیږي چې د دواړو جهانو سردار حضرت محمد صلی الله علیه وسلم د ګناهونو څخه بالکل معصوم او پاک ؤ، ددې سره هغه مبارک صلی الله علیه وسلم فرمایي چې :زه د الله تعالٰی څخه هره ورځ تر اویا (۷۰) زیات کرته استغفار کوم. (بخاري).

# د فطر صدقه

**شاه محمود درویش**

مومنو مسلمانانو ورونو او درب العزت رښتینو بندګانو! لکه څنګه چې د پاک خدای (ج) له خوا روژه په هر کال کې یوه میاشت پرټولو مسلمانانو که هغه نارینه وي که ښځینه چې بلوغ ته رسیدلی وي فرض کړای شوې ده نو سره له دې چې د روژې مبارکې ټوله میاشت د عبادت، فضیلت، رحمت اودپاک الله(ج) د پیرزوینې میاشت ده چې رب العالمین د خپل حکمت او علم قدیم په اساس هغه د دولس قمري میاشتو په جمله کې دې ته ځانګړې کړې او امتیازیې ورکړې دی، البته دامیاشت د خواخوږي میاشت هم ده ځکه چې ددې میاشتې له فضایلو څخه یوهم دادی چې د هرمومن مسلمان دکورنۍ په ټولو غړو صدقه دفطرهم لازمه شوې ده چې په دې اړوند کولی شو د فقهې په رڼا کې یې په لاندې توګه یادونه وکړو :

په هر هغه انسان چې آزاد ، مسلمان او دشرعي نصاب مالک وي دفطر صدقه لازمه ده او دغني نصاب خاوند دځان او دخپل صغیر اولاد ، دخپل غلام او وینځې دفطر صدقه هم باید ادا کړي او اندازه د صدقه فطر په لاندې ډول ده :

صدقه دفطر د هر شخص په اندازه د نیم (صاع) غنم له (( ۱۷۵۰ )) ګرامو غنمو سره برابرېږي او معادل د خوردکم یوچارک کېږي ، البته د وربشو، خرما او ممیزو پوره یو (صاع) لازمه ده ، که چېرې د صدقه فطر په عوض دیاد کړای شویو څیزونو د یو څیز بیه « قیمت» ورکړای شي ، جایز دی .

د صدقه فطر حکم او دمشروعیت دلیل:

رسول الله (ص) د اختر لمانځه د اداء کولو لپاره د وتلو نه وړاندې د صدقه فطر ورکولو امر کړی دی. همداشان عبدالله بن عمر روایت کوي وایي: رسول الله (ص) د فطر زکات په مریانو اصیلو، ښځې نر او بوډا او ځوان مسلمان باندې واجب کړی دی،(ان رسول الله فرض زکاة الفطر من رمضان على الناس على كل حر او عبد ذكر اوانثى من المسلمين)«موطا الامام مالک، حدیث : ۹۸۷»

دصدقه فطر دلازمیدو وخت : صدقه فطر دسهار دلمر په څرک (صبح صادق ) او دکمکي اختر په لومړۍ ورځ لازمیږي، همداشان که چېرې داختر په شپه کوم ماشوم پیداشي یعنې نوی پیداسی له یادکړای شویو شرایطو سره سم صدقه دفطر یې لازمه ده او که چېرې کوم شخص د اخترپه شپه مړشي ، صدقه دفطریې هم پای ته رسیږي.

د صدقه فطر ورکولو وخت:

مونږ مسلمانان مکلف یو چې سرسایه ورکړو او باید د اختر لمانځه د اداء کولو څخه وړاندې یې ورکړو، لکه چې د عبدالله بن عمر رضی الله عنهما نه په دې شرحه روایت دی: ( ان رسول الله امر باخراج زكاة الفطر ان تودى قبل خروج الناس الى الصلاة) « صحیح مسلم: کتاب الزکاة باب الامر باخراج زكاة الفطر قبل الصلاة حدیث: ۹۸۶ )

بنآ د ذکر شوي روایت پربنسټ سرسایه ورکول مخکې د اختر له لمانځه څخه ډیر فضیلت لري او که چېرې مخکې د کمکي اختر څخه سرسایه ورکړای شي هم جایز ده، ځنډول یې داختر له ورځې څخه وروسته ګناه ده اوپه غیر د ورکولو یې شخص نه خلاصیږي، همدارنګه سرسایه باید مسکینانو ، بیوزلو اونادارو خلکو ته ورکړل شي.دا چې د روژې مبارکه میاشت پای ته رسیږي نو دمسلمانانو د لاخوښي له پاره یې د نیکمرغه کمکي اختر ورځې دوی ته غوره کړې دي ترهغه چې دیوې میاشتې روژې نیولو له سپېڅلي عبادت وروسته مسلمانان په خپل منځ کې راشه درشه وکړي او د یوبل په حال او احوال باندې پوه او باخبره شي نو ددې له پاره چې د ټولنې د مسکینو ، بیوزلو او نادارو خلکو ته هم خوښي او خوشحالي ورپه برخه شوې وي نو دنصاب په مالک یې سرسایه لازمه ګرځولې ده ، په اسلام کې د سرسایې د اداکولو څخه هدف په اسلامي ټولنه کې د خواخوږي او همدردي دشتون پیاوړتیا او د ټولنیزو اړیکو ټینګښت او پایښت دی، اسلام دتقوا ، خواخوږي او همدردي دین دی پردې بنسټ پرمونږ مسلمانانو واجب ده چې په ټولنه کې د بیوزلو ، مساکینو او یتیمانو له حال او احوال څخه باخبره و اوسو ترهغه چې له هغوئ سره مرسته او امداد وکړو ترهغو چې دوئ له تنګ لاسي او ستونزو څخه وژغورل شي او هم په ټولنه کې سمون را منځته او په بشپړه توګه ټینګ شي، لکه څنګه چې پاک خدای (ج) جناب حضرت رسوالله صلی الله علیه وسلم ته هدایت فرمایلی چې هیڅ یتیم تحقیر نه کړې او هیڅ مسافردې له خپلې دروازې څخه محروم او ناهیلی نه کړې اوهغه نعمتونه چې یې تاته درکړي له هغه څخه یادونه وکړه، دپاک خدای (ج) رښتینو بندګانو که چېرې د خدای (ج) او د رسول اکرم (ص) رضایت غواړئ نوتل د فقیرانو ، مساکینو ، بیوزلو او یتیمانو لاس نیوی وکړئ او له هغو نعمتونو څخه چې پاک الله (ج) پرتاسو پیرزوکړي صدقه ورکړئ چې سعادت او نیکمرغي ته ورسیږئ اوپه یقین سره پوه شئ چې اسلام د ټولنیز عدالت، مرستې ، خواخوږي ، رحمت اودوستي دین دی او بې ساری خوند هم د بیوزلو په لاس نیوي کې نغښتی دی ، نو تروسې وسې باید ټول مسلمین په سمه طریقه دفطر صدقه ادا کړی چې په دې ډول وکولای شو تریوه حده د بیوزلو او مساکینو لاسنیوی وکړو او له امله یې د پاک خدای (ج) اود جناب رسول اکرم (ص) رضایت حاصل کړو.




# روژه د برکتونو میاشت!

**دیارلسمه برخه / مولوي نورالحق مظهري**

دروژې میاشتې برکتونه:

**نولسم‌برکت:**

بل برکت ددې میاشتې دا دي چې ددې میاشتې د روژې په نیولو باندې د انسان څخه متقي او پرهیزګاره جوړیږي لکه څنګه چې الله پاک په قرآن عظیم الشان کې فرمایي:

یَـا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُواْ كُتِبَ عَلَيْكُمُ الصِّيَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَى الَّذِينَ مِن قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ. [البقرة:۱۸۳]

ژباړه: ای مومنانو! روژه پر تاسو باندې داسې فرض کړل سوېده لکه پر هغه کسانو چې تر تاسو مخکې تیر سوي دي ددې لپاره چې تاسو متقیان سی. نو د روژې په نیولو باندې انسان متقي کېږي خو پدې شرط چې سمه روژه ونیسي او تقوی هغه شی دی چې هر مسلمان د ځان د نجات او ژغورنې لپاره اړتیا ورته لري.

شیلم‌برکت:

بل برکت ددې مبارکې میاشتي دا دی چې پدې مبارکه میاشت کې الله پاک امت ته د رسول الله صلی الله علیه وسلم د اعتکاف په نامه ښکلی عبادت ورکړی دی چې نارینه او ښځینه دواړه یې کولای سي البته نارینه به یې په جوماتونو کې کوي او ښځینه به یې په خپلو کورونو کې کوي.

اعتکاف هغه عبادت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم نه دی قضاء کړی، عایشه رضي الله عنها فرمایي: رسول الله صلی الله علیه وسلم چې ژوندی وو نو خپله به یې د روژې میاشتې په لسو آخرو شپو کې اعتکاف کوی او کله چې دی مبارک وفات سو بیا دده میرمنو اعتکاف کوی.د اعتکاف د فضیلت لپاره په آثارو کې ډېر ښه مثال راغلی دی هغه دا چې: د معتکف مثال د هغه چا دی چې د یو چا پر دروازه باندې و دریږي او دا ورته وایي تر څو چې زما اړتیا پوره نکړې د دروازې څخه دي نه ځم؛ معتکف هم همداسې دی کله چې دی په اعتکاف کې کېښني نو داسې مثال لري لکه دی چې د الله پاک پر دروازه باندې د سوال کولو لپاره ولاړ وي او داسې په جدیت ولاړ دی چې تر څو یې الله پاک غوښتنې او سوالونه ونه منې د دروازې څخه یې نه ځي، بالآخره ددې ډېر احتمال سته چې الله پاک دې دده غوښتنې او سوالونه ومنې لکه د روژې په آخره کې د اختر په ورځ چې د روژتیانو لپاره الله پاک ثوابونه ورکوي و معتکف ته دې هم ثواب ورکړي.خلاصه داسې ویلای سو چې اعتکاف د عبادت، توبې او دعا قبلېدلو لپاره ښه وخت دی هیڅ مسلمان یې باید د لاسه ورنکړي. همداسې په یوه حدیث کې راځي: څوک چې د روژې میاشتي په لسو شپو کې اعتکاف وکړي نو ده ته به د دوو حجونو او عمرو ثواب ورکول کېږي.

# د روژې ځینې روغتیایي ګټې‌لق إلى مستخدام أن إضافة

**ژباړه او زیادت: مولوي نورالحق مظهري**

د روژې لپاره ډېري روغتیایي ګټې سته چې په لاندې ډول یې د ځینو یادونه کولای سو:

۱ - د معدې او کولمو څخه عفونتي اضافه مواد غورځوي.

۲ - معده وربانديې هوسا کېږي.

۳ - روژه د ناروغیو په مقابل کې وقایه ده، ډېري ناروغۍ دي چې بې له وقایې په درملنې باندې نه جوړیږي او روژه ډیره ښه وقایه ده.

٤ - څوک چې د کوچنیو او لویو کولمو مزمن التهاب ولري روژه ورته ډېره ګټه کوي.

۵ - دینې د کمکارۍ په درملنه کې روژه ډېره ګټه لري.

٦ - د خارش او یا ګرولو ناروغۍ ته روژه ډېره ګټه لري.

۷ - د الرژي یا حساسیت د ناروغۍ په درملنه کې روژه ډېر تأثیر لري.

۸ - روژه د چاغۍ په ناروغۍ کې ډېره مفیده ده ځکه چې په روژې باندې وزن ډېر کمیږي.

۹ - روژه د لوړ فشار د کمولو لپاره ډېره موثره ده.

۱۰ - روژه د ګوردوکانو د ځینو التهابونو په درملنه کې ډېره اغېزمنه ده.

۱۱ - روژه د کېسه صفراء د التهاباتو په درملنه کې ډېره موثره ده.

۱۲ - روژه د زړه د مزمنو ناروغیو په ختمولو کې ډېره موثره ده.

۱۳ - روژه د معدې د ډېرو ناروغیو د درملنې لپاره ډېره موثره ده.

۱٤ - روژه د انسان په خوشحاله کولو او سپین ږیرتوب په ځنډولو کې ډېر تأثیر لري.

عصبي جهاز او سیستم ته د روژې ګټه:

ډاکټر محمد ابوشوک په یوې مقالې کې چې د (الصوم والجهاز العصبي) تر عنوان لاندې یې لیکلې ده وایي: د روژې د روحانیت له وجهې او پدې خاطر چې روژه نفس صفاء کوي، روح پاکوي، پر ستونزو باندې انسان ته تحمل او صبر ور زده کوي، پر مسکینانو او اړو انسانو باندې مهرباني ته انسان هڅوي، په شهواتو کې د لوېدلو څخه انسان لیري کوي، د انسان نفس په ښو اخلاقو باندې ښایسته کوي لکه په کړنوکې صداقت، په کار کې امانتداري، د خښم او انتقام څخه د انسان لیري کول او د حسد او کینې څخه د نفس ژغورل.




دا ټوله هغه شیان دي چې بشري روح ته سلامتیا، محبت، دوستي او هغه صفایي وربخښي چې د انسان روح وربانديې ډېر مطمئن او آرام کېدلای سي.ځینو بریتانوي ډاکټرانو ویلي دي: په کال کې یوه میاشت روژه نیول د إنسان په بدن کې د پوره کال کچره او چټلي ختموي.تر ټولو مشهور لیکوال چې د روژې په فایدو کې یې لیکل کړیدي په امریکا کې د بدني ثقافت مشر ماک فادن دی.

نوموړی په امریکا کې په خپل نامه لوی کلینیک جوړکړی دی او د روژې د فوائدو په اړه یې هغه وخت کتاب ولیکی چې ده ته په تجربو ثابته سوه چې روژه د ډېرو سختو ناروغیو د درملنې لپاره موثره ده نوموړی وایي: روژه بدن ته ګټه لري د ټولو هغو جراثیمو څخه بدن پاک کوي چې د خوړو سره د انسان بدن ته ځي.

هغه ناروغۍ چې نوموړي په روژې باندې معالجه کړیدي:

د معدې او هضمي جهاز ناورغۍ.

د وینو او رګونو ناروغۍ.


نوموړي ډاکټر په خپل کتاب کې د ټولو هغو خلکو نومونه او مشخصات لیکلي دي چې ده په روژې باندې د هغوی درملنه کړیده.

دی وایي: هر انسان دې ته اړتیا لري چې باید روژه ونیسي بلکې هر مریض روژې ته اړتیا لري. **منبع: تحف رمضانية**

# ظهـور اسـلام و حضـرت محمـد«ص»

**عبدالهادی قریشی**

تـا اوایـل قـرن «٦» اعـراب جامعـة طایفـوی را حفـظ کـرده و بـه قبایـل وطایفـه زیـادی تقسیم شـده بودنـد، افـراد هـر قبیلـه از چـراگاه هـای مشـترک استفاده مـی کردنـد، در بیـن قبایـل جنـگ هـا رخ مـی داد تصـادم هـای شـدید قواعـد خـون خواهـی و انتقـام جویـی را بـه وجـود آورده بـود. و هـر قبیلـه بتـی را مـی پرسـتیدند و شـیخ هـا سرشناسـان قبیلـه هـا بودنـد.




ظهـور اسـلام مبـارک و حضـرت محمـد«ص» پیامبـر **بزرگـوار اسـلام:**

قبیلـة قریـش در مکـه زندگـی مـی کـرد و قبیلـة مذکـور شـامل طایفـه هـای زیـاد بـود. کـه یکـی ازیـن طایفـه هـا، طایفـة دارا و ثروتمنـد امـوی بـود و طایفـة دیگـری طایفـة بنـی هاشـم بـود. حضـرت محمـد«ص» پایـه گـذار دیـن مبـارک اسـلام در سـال ٥٧٠ م در طایفـة بنی هاشـم تولـد گردیـد. عبدالله پـدر آنحضـرت«ص» قبـل از تولـد فرزنـدش وفـات کـرده بـود و مـادرش بـی بـی آمنـه زمانـی وفـات کـرد کـه پیامبـر بزرگـوار اسـلام شش سـاله بـود. حضـرت محمـد«ص» در خـرد سـالی گوسـفندان کاکای خـود را مـی چرانـد، او در جوانـی بـا راهبـان و علمـأي دیـن عیسـوی مباحثـه کـرد. حضـرت محمـد«ص» بـه خـدای واحـد عقیـده داشـت او شـان در سـن ٢٥ سـالگی بـا بـی بـی خدیجـه کـه یـک زن پـاک دامـن بیـوه و ثروتمنـد بـود از دواج کـرد. در حوالـی سـال ٦١٠ م حضـرت محمـد ص بـه انتشـار تعلیمـات دیـن مبـارک اسـلام اقـدام فرمـوده و قرآنکریـم بـرای حضـرت محمـد«ص» بـه صـورت وحـی نـازل مـی شـد.

